سرور احمدزی ۲۰۱۰/۱۰/۲۶

# پکه دا دي لا بله سپکه

تېره ورځ مې د نیویارک ټایمز سرمقاله لوسته، چې په کې د ولسمشرۍ دفتر رئیس عمر داودزي په اړه ډېر څه لیکل شوي و، حتا یو څو ځنګزني اشارې یې ولسمشر ته هم کړې وې، چې دوی ټول د ایران په خوړو روږدي دي او ګوندي هره میاشت ډیر پیسې دوی ته د ایران د حکومت لخوا بخششي (رشوت) ورکول کېږي، تر څو د دوی د موخو ننګه وکړي او همدارنګه د دوی پلانونه په افغانستان کې تطبیق کړي.


عمر داوودزی

د ایران دا کارونه خو له پخوا هم جوت و، چې د افغانستان په ټولو اړخونو او برخو کې یې لاسوهنه کوله او د یوه کوچني مامور یا پیاده نه نیولې هان دا دی تر ولسمشرۍ ماڼۍ پورې یې لاس اوږد کړی. په تېرو ټاکنو کې یې هم په ډېره پراخه پیمانه لاسوهنه کړې او د نیمروز ولایت یوه ښځینه وکیله چې ګواکې ایرانۍ ده هغه خو یې تر پارلمانه ورسوله او داسې به یې نور څومره د ولس انګړ ته بدرګه کړي وي، چې په دې برخه کې ځیني افغان مشران هم له دوی څو برابره مخکې دي او دوی ته په دومره صداقت کار کوي، چې ته به وایې دوی اصلاً ایرانیان دي.
په افغانستان کې د ایران مذهبي، سیاسي، کولتوري او ... اغېز دومره ډېر دی،

چې څه موده مخکې یې د ایراني وفادارانو پر مټ د امروز تلویزون هم بند کړ، چې د ایران د مداخلو په اړه یې سندونه وړاندې کول او همدارنګه د ایران سفیر، چې نبغ په نېغه یې لوی څارنوال ته امرونه کول، چې د هغو افغانانو پر ضد دې کړنې یا اقدامات وکړي، چې د ایران پر ضد خبرې کوي.

زه په کلکه له ولسمشر کرزي او نورو لوړپوړو ادارو یا چارواکو څخه غوښتنه کوم، چې د نیویارک ټایمز د راپور په بشپړه توګه څېړنه وکړي او تورن کسان پوښتنو ږروېږنو ته راوغواړي، ځکه چې د یو هېواد دومره لوړ پوړي کسان د ګاونډي هېواد په پلوي یا چوپړ کولو تورن شي نو دا خو بیا ټول ولس په وېره او ډار کې اچوي، چې ګواکې دوی ټول د یوه ګاونډي هېواد د ګټو لپاره قرباني ورکوي او همدارنګه زه د اوسني دولت داسې کړنې په کلکه غندم او هیله لرم، چې دوی نور په خپلو ګرېوانونو کې سر ښکته کړي او په غمځپلي ولس زړه وخوږوي، ځکه چې دې ولس ډېر دردونه او کړاونه لیدلي اوویني یې.

په درنښت
سرور احمدزی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ